**ستاسو د هدایت په اساس:**

**د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د کرونا ناروغۍ د مخنیوي او د عامه پوهاوي په برخه کې لاندې فعالیتونه تر سره کړي**

| پیل ځ | فعالیت | عکس |
|---|---|---|
| 1 | لوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په ۲۸ د حوت د لوګر په ښار کې د لاریون په توګه شا اوخوا ۳۰۰۰ لیکلي پیغامونه وویشل او دغه راز په موټر کې نصب لوډسپیکر باندې یې ښاریانو ته د کرونا د مخنیوي په خاطر عامه پوهاوی وړاندې کړ |  |
| 2 | لوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د حمل میاشتې په ۵ نېټه د کرونا ناروغۍ پېښو ته د رسیدنې په موخه د سرې میاشتې ریاست په همکارۍ ۱۲ کسیزه رضاکاره تیم کمیټه ایجاد کړه چې عاجلو پیښو ته به رسیدنه کوي او په راس کې یې اطلاعاتو او فرهنګ ریاست دی |  |
| 3 | اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په مشرۍ د حمل میاشتې په ۱۲ نیټه په لوګر ولایت کې د کرونا د ناروغۍ د مخنیوي او عامه پوهاوي لپاره د والي صیب په شتون کې له ټولو غړیزو رسینو سره ناسته وشوه او په ترڅ کې یې یوه کمیټه جوړه شوه چې مشري یې د اطلاعاتو او فرهنګ رییس کوي او مرستیال یې د مقام ویاند او د هرې رسنۍ یو تن غړی به ورسره همکار وي |  |

| | | |
|---|---|---|
| 4 | اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د حمل میاشتې په ۱۰ نیټه ددې ریاست ټولې ادارې او دغه راز د محلي راډیوګانو سټیډیوګانې او دفترونه په عفوني ضد درملو وپاشل، ددې ریاست د اطلاعاتو امریت راډیو په راډیو وګرځیدل او راډیوګانو ته یې همدا درمل ورسول |  |
| 5 | د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د اطلاعاتو امریت د حمل میاشتې په ۹ مه نیټه د لوګر له ټولو راډیوګانو څخه د نظارت په ترځ کې د کرونا ناروغۍ په برخه کې د عامه پوهاوي سپارښتنه وشوه او دوئ ته یې د عامې روغتیا ریاست له خوا رالیږل شوي اعلانات تسلیم کړ او اوس یې رسنۍ وخت پر وخت نشروي |  |
| 6 | د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د وزارت له هدایت سره سم ددې ریاست د لنکن مرکز شاګردان او دغه راز د عامه کتابتون مراجعین د ثور میاشتې تر ۱ نیټې رخصت کړل |  |
| 7 | اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د وزارت له هدایت سره سم د تجمعاتو د مخنیوي په خاطر ددې ریاست اړوند د غونډو تالارونه وتړل او په مطلق ډول د غونډو له دایریدو څخه مخنیوی شوئ |  |
| 8 | اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د وزارت له هدایت سره سم له ۵۸ کلونو پورته کارکوونکي رخصت کړل او د غه راز نورو کارکوونکو ته یې کاري وخت تر یوې بجې پورې کړ ترڅو ددې ناروغي مخه نیول شوې وي | **دوه کسان ۵۸ کلونو عمر لرو او رخصت شوي** |

| | | |
|---|---|---|
| 9 | اطلاعاتو او فرهنګ رياست اړوند خپریدونکې جریدې د کب میاشتې ګڼې نشراتو غوښنه برخه د کرونا ناروغي مخنیوي ته ځانګړې کړې او لوستونکو ته يې د لومړنیو تدابیرو په تړاو په زړه پورې مطالب وړاندې کړي دي او ددې رياست دوه فسبوک پاڼو نشراتو ته يې د کرونا برخې په تړاو نشرات ډير کړي دي |  |
| 10 | لوګر ولایت اطلاعاتو او فرهنګ رياست د رياست په صحن کې او د غه راز په ټولو تشنابونو، پخلنځي او دست شوی ګانو کې د کرونا د مخینوي په خاطر صابونونه، عفوني ضد وایټیکس او دغه راز د تیر په پرتله يې نظافت او پاکوالي ته نور توجه هم شوې دی | شل داني ډیټول صابون، پنځه بوتله الکول، دوه درجنه ماسک او دوه درجنه دست کش تر لاسه شوي |

پورته لس موارد د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست د کرونا ناروغۍ د مخینوي او عامه پوهاوي په برخه کې تر سره کړي، هغه چارې چې په راتلونکي کې يې لړو انشالله ګذارش به يې له تاسو سره شریک شي.

درنښت

عبدالرحمن تسل

د لوګر ولایت د اطلاعاتو او فرهنګ رییس